Queen Margaret University
INSTITUTE FOR GLOBAL HEALTH AND DEVELOPMENT

# د سکاټلېنډ د افغان مهاجرينو لپاره ملاتړ: په ليرې پرتو سيمه ايزو اداراتو کې د ټولنيزو اړيکو پلټنه کوم چې د بياميشتيدنې لږه تجربه لري.

## اجرايوي لنډيز

دا سند د ABM AMIF3 د تمويل شوي پروژې د تمديد مرحلې موندنې او سپارښتنې خلاصه کوي چې 'نيو سکاټز: اقتصادي او ټولنيز شموليت ته لارې' په نوم ياديږي او په هغو افغان اتباعو تمرکز کوي چې په سکاټلينډ کې په برجينګ هوټلونو کې ميشت کړل شوي يا په لنډمهاله توګه ځای پرځای شوي دي. د پروژې د څېړنې برخه د سکاټلينډ د کډوالو شورا، د بريجيز پروګرام او د کارګرانو تعليمي ټولنې سره په ملګرتيا کې د ملکې مارګريټ پوهنتون لخوا رهبري کيږي.

### عمومي کتنه

د دې پروژې موخه د هغو کليدي ټولنيزو اړيکو درک کول وو چې افغان کډوالو، سيمه ايزو سازمانونو او د خدماتو چمتو کونکو په هغو سيمه ايزو اداراتو کې د ادغام لپاره مهم پيژندلي کوم چې د بيا ميشتيدنې مخکينۍ لږه تجربه لري. د دې مطالعې څخه زموږ موخه د افغان ګټه اخيستونکو غږونو ته وده ورکول او تر دې دمه د ادغام په اړه د افغان ګټه اخيستونکو د تجربو رسول او پرې بحث کول وو ترڅو د ارزونې هغه فعاليتونه بشپړ شي چې د خدماتو چمتو کونکو او ځايی چارواکو لخوا ترسره شوي، په عمده توګه په ابرډين، اډينبورګ او فايف کې. د دې د ترلاسه کولو لپاره، موږ لاندې څېړنيزې پوښتنې او د څېړنې موخې پلټلې:

- هغه کليدي ټولنيزې اړيکې کومې دي چې کډوال، سيمه ايزه سازمانونه او د خدماتو چمتو کونکي يې په هغو سيمه ايزو مقاماتو کې د ادغام لپاره مهم پيژني کوم چې د بيا ميشتيدنې لږه مخکينۍ تجربه لري؟
- د افغان ګټه اخيستونکو د ټولنيزو اړيکو نقشه کول، په شمول د:
  - د افغان ګټه اخيستونکو لپاره د غير مهاجرت ځانګړو ټولنيزو اړيکو د اهميت پيژندل؛
  - د ادغام پورې اړوند د ټولنيزو اړيکو معلومول چې د افغان ګټه اخيستونکو لخوا او همدارنګه د ځايي خلکو او د خدماتو د چمتو کونکو لخوا پيژندل شوي؛ او
  - د ادغام د څو اړخيزه توب په اړه ښه پوهه ترلاسه کول.

په ليکنو د بياکتنې سربيره، زموږ څېړنه کې درې يو پر يو مرکې او دوه ګروپي ورکشاپونه شامل وو چې له ميشت شوو هغو اوو افغانان سره مو ترسره کړل کوم چې زموږ د پروژې د شريکانو سره ګټه اخيستونکي وو. موږ د دې په تعقيب کې په ترتيب سره وروسته درې نور ورکشاپونه د سيمه ايزه سازمانونو، ځايي مقاماتو او د پروژې د شريکانو سره ترسره کړل. زموږ د مرکو او ورکشاپونو په اوږدو کې، ګډونوالو د ابرډين، اډينبورګ، فايف او همدارنګه د هغو نورو سيمو استازيتوب وکړ چې د بيا ميشتيدنې مخکينۍ لږه تجربه لري. زموږ څېړنه د نظري تمرکز له مخې د ادغام پر شاخصونو او د ادغام په اسانه کولو کې د ټولنيزو اړيکو اړوند اهميت باندې بنا شوې وه. د افغان وګړو او سيمه ايزو سازمانونو سره زموږ په ورکشاپونو کې، موږ د کليدي لوبغاړو او اړيکو د روښانه کولو لپاره د ټولنيزو اړيکو نقشه جوړه کړه چې په هره سيمه کې د ادغام لپاره اسانتياوې برابروي يا کولی شي برابر يې کړي. د سيمه ايزو چارواکو او د پروژې شريکانو سره زموږ ورکشاپونو بيا موږ ته اجازه راکړه چې زموږ د ټولنيزو اړيکو د نقشو په اړه نظرونه راټول کړو او د جوړښتي مسايلو نور ليدلوری ترلاسه کړو چې د کليدي ټولنيزو اړيکو په جوړولو اغيزه کوي.

## کليدي موندنې

### ټولنيزې اړيکې

هغه افغانان چې په هوټلونو کې ژوند کوي د مهم ملاتړ او مشورې د ترلاسه کولو لپاره په محلي چاراواکو، په کورنيو چارو دفتر او د سکاټلنډ د کډوالو د شورا پر کارکوونکو تکيه کوي. د دې يو دليل دا برېښي چې دا ډول هستوګنه د ځانته والي او انزوا طبيعت لري - سره له دې چې برخه اخيستونکي د بهر وتلو، کار موندلو او د سکاټلنډ د ځايي خلکو سره د لا زياتو اړيکو درلودلو هيله څرګندوي. افغانان د رواني مرستې لپاره په هوټلونو کې د نورو افغانانو په غير رسمي شبکو تکيه کوي، د روحي صدماتو مرستو په ګډون. د نورو کډوالو لپاره په هغو سيمو کې چې د بيا ميشتېدنې لړه مخکينۍ تجربه لري، په کلبونو او پروژو کې د تاريخي ټولنې له اوسيدونکو سره د نږدې ټولنيزو اړيکو ټينګول د دوی د ښه روغتيا او په نوو ټولنو کې د مثبت ادغام لپاره مهم و.

### هستوګنه

د اوږدې مودې لپاره په هوټلونو کې ژوند کول په سکاټلېنډ کې د افغانانو لپاره د فزيکي او رواني تکليف لامل و. د هستوګنې د نامنه او ناڅرګنده حالت سره بوختيا پدې معنی وه چې افغانان د انګليسي ژبې د ودې او د کار موندلو په شمول د خپلو نورو فعاليتونو په پرمختګ کې ستونزو سره مخ شي.

### د کار لټون

د قناعت وړ په دندو کې د کار نشتوالي د افغانانو پر روغتيا او د هغوی د ادغام د وسيلو او نښو د پرمختګ پر وړتيا باندې د پام وړ منفي اغيزه کړې وه.
د انګليسي ژبې په مهارتونو کې لکه څرنګه چې دوی تمه درلوده په چټکه توګه پرمختګ نه کول د دوی د خوښې وړ دندو په موندلو کې بريا اغيزمنه کړې وه، که څه هم دوی يې وړتياوې درلوده.

### د انګليسي ژبې وده

افغان وګړو او سيمه ايزو سازمانونو د سکاټلېنډ په بيلابيلو برخو کې د ESOL کورسونو د کيفيت او مقدار په اړه انديښنې شريکې کړې.

### رواني روغتيا

د اوږدې مودې لپاره په هوټل کې اوسېدنه په سکاټلېنډ کې د ميشتو افغانانو لپاره د رواني تکليف يو مهم لامل و.
احتمال شته چې ځای پر ځای شوي افغانان همدارز سکاټلېنډ ته د دوی د رسيدو او سفر پورې اړوند صدماتو څخه هم رنځ وړي.

### انتظار

د انتظار يا ناڅرګندتيا احساس د کډوالو په تجربه کې دومره پراخه دی چې اغيز يې ځانګړې پاملرنې ته اړتيا لري.

### سيمه ايزه زيربنا

په هغو سيمو کې چې د بيا ميشتېدنې مخکينۍ کمه تجربه لري د مهاجرينو د ملاتړ د مهمو زيربناو عمومي کمښت شتون لري چې د بريګزيټ او د ژوند د لګښت بحران په څير ځواکونو له امله هم پرې بوج ډير شوي. په دې تشو کې د ژباړونکو د خدماتو کموالی، د لاسرسي وړ حقوقي مرستو کموالی، د ملګرو او بين الفرهنګي شبکې لپاره د ټولنې ځايونو کموالی، او په څو کلتوريزو او په صدمو باخبره تمرين کې د کليدي خدماتو چمتو کونکو د روزنې کموالی شامل دي.

## کليدي سپارښتنې

**دټولو لپاره:**

- د کډوالو خلکو لپاره او د دوی په ټولنو کې د نورو لپاره د ټولنیزو اړیکو د جوړولو ملاتړ وکړئ - د بیلګې په توګه، په ځایي سازمانونو او ځایي فعالیتونو کې لکه د ژبې کافه ګانو ته او سپورت کلبونو ته د ټول شموله لاسرسي اسانتیا برابره کړئ.

**د راتلونکي ادغام خدمتونه باید:**

- د ادغام په پلان جوړوني او فعالیتونو کې د ټولنیزو اړیکو بحثونو شاملولو ته دوام ورکړي.
- په ځایي او ملي کچه د ټولو لوبغاړو ترمنځ د معلوماتو د شریکولو هڅو ته دوام ورکړي ترڅو دوه اړخیزه ګټور لومړیتوبونه رامینځته شي.

**COSLA، سیمه ایز چارواکي، قانوني خدمتونه او د نیو سکاټز کاري ډلې باید:**

- ډاډ ترلاسه کړي چې د کلیدي خدماتو چمتو کونکي په هغو سیمو کې چې د بیا میشتیدنې لږه مخکینی تجربه لري په مناسبه توګه د ژباړونکي په خدمتونو سمبال اوسي او همدارنګه د څو کلتوري پلوه حساس او په صدماتو د باخبره تمرین په وړاندې کولو کې روزنه ولري.
- د سکټورونو ترمنځ، د سیمو دننه، د منطقې په کچه او د ژوندیو په تجربو بنا فورمونو او عملیاتي ګروپونو کې په معموله توګه برخه واخلي ترڅو غوره تمرینونه شریک کړي او مهم شراکتونه رامینځته کړي ترڅو د سکاټلینډ په بیلابیلو برخو کې د ټولنې ادغام او د کډوالو خلکو هوساینې ته ګټه ورسوي.

**د سکاټلنډ حکومت باید:**

- ځانګړی تمویل چمتو کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې سیمه ایز چارواکي او سیمه ایز سازمانونه وکولی شي په صدماتو باخبره او د څو کلتوري پلوه حساس یو له بل او په ټولنې بنا روزنې ته لاسرسی ومومي؛ وکولی شي هغه پروژې پرمخ بوځي چې ادغام اسانوي؛ او وکولی شي د مراجعینو لپاره د ژباړې خدماتو ته لاسرسی ومومي.
- د قانوني مرستو تمویل زیات کړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې کډوال خلک په غیرعادلانه ډول ملاتړ ته له لاسرسي څخه منع نشي او د هیواد په کچه د دریم سکتور په بحراني خدماتو باندې تکیه نه شي.

**د بریتانیا حکومت باید:**

- ځایي چارواکو ته دا وسپاري چې د مهاجرینو لپاره په خپله د کورونو حل لارې پیدا کړي، پر ځای د دې چې هغه لارې ته دوام ورکړي کوم چې په ملي او سیمه ایزه کچه پکې د مشورې کموالی شتون لري

**راتلونکي څیړنه باید:**

- د پورتنیو ټولو فعالینو د ملاتړ څخه کار واخلي ترڅو د ملي ادغام د پالیسی د اغیزمنتیا په اړه یوې قوې بین منطقه ای مطالعې ته لاره هواره کړي چې پکې د جغرافیوي باریکو نقاطو تحلیل وشي او اوږدمهاله څیړنې شاملې شي. د ملکي مارګریټ پوهنتون به په فعاله توګه د پخوانۍ پروژې شراکت جوړوني له مخې د دې څیړنې اجنډا ته پراختیا ورکړي.

## قدرداني

مونږ د خپلو خدماتو د وړاندې کوونکو شریکانو څخه - د سکاټلینډ د کډوالو شورا څخه، د بریجیز پروګرام او د کارګرانو تعلیمي ټولنې څخه - او همدارنګه زموږ په مرکو او ورکشاپونو کې د ټولو ګډون کوونکو څخه مننه کوو چې د دې مطالعې لپاره یې په سخاوتمندانه ډول خپل وخت او مهارت وړاندې کړ. مونږ همداراز مننه کوو د پراخ مهاجرت، ادغام او ټولنیزو اړیکو (MISC) څیړنیزې ډلې څخه، پشمول د هیلن بایلوټ، لیلا کیرلاف او ایمالینا کاکیکلا. دا پروژه او راپور د اروپایي اتحادیې د پناه غوښتنې، مهاجرت او د ادغام فنډ [UK/2020/PR/0104] د تمویل په مرسته ممکن شو.

د څېړنې ټیم: ډاکټر مارسیا ویرا-ایسپینوزا (اصلی پلټونکی)، ډاکټر نیکول ویدال (د څېړنې فیلو)، جیانلوکا پالمبو (د څېړنې مرستیال)، ډاکټر اریک ډیکیسین (د څېړنې فیلو، د پروژې مدیر) او مارکوس فرنانډیس (د څېړنې مرستیال).

[Publications — Migration, Integration, Social Connection (miscintegrationresearch.org)](https://miscintegrationresearch.org)

اړیکه: نیکول ویدال (nvidal@qmu.ac.uk) او جیانلوکا پالمبو (gpalombo@qmu.ac.uk)

Queen Margaret University
EDINBURGH

scottish refugee council

BRIDGES PROGRAMMES

WEA Adult Learning Within Reach

misc

miscintegrationresearch.org

https://www.qmu.ac.uk/schools-and-divisions/ighd

Migration, Integration and Social Connection Team
Psychosocial Wellbeing, Integration and Protection Cluster
Institute for Global Health and Development
Queen Margaret University, Edinburgh

This work was undertaken as part of the AMIF-funded 'New Scots Integration – A Pathway to Social and Economic Inclusion' ABM3 Project.